مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی
۲۰۱۸/۱۱/۰۷

# غزل

په درشل د لېونيانو مې مه شمېره
د تېر وخت په عاشقانو مې مه شمېره

يقين وکړه، دواړه سترګې مې ړندې شوې
په محفل اوس د يارانو مې مه شمېره

د غلبيل په شان مې زړه سورى سورى دى
يم دردمند په خنداګانو مې مه شمېره

ننګ او نوم راسره نه ځي په يوه لاره
کرغيړن يم په بازانو مې مه شمېره

د اميد لاس مې دى مات دا ځکه ژاړم
په کاروان د اتلانو مې مه شمېره

پسرليه! خپلواکي له خدايه غواړه
د دې وخت په غلامانو مې مه شمېره

مصطفی پسرلی
12/10/2018


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ